سرور ستانکزی ۲۰۲۱/۰۸/۲۵

هغه رازونه چې غني ولې له وطن ولاړ؟

کله چې پر ولایتونو جګړه وه، نړیوال او خصوصاً امریکا کاملاً غلي و. حتا جوی بایډن په څو اونیو کې یو ځل هم د افغانستان اړوند پوسټ نه کاوو. دوي فکر کاو؛ بابا د قدرت وړی دی. د خپلې بقا لپاره به جګړه کوي. مونږ به د افغان وژنې او افغانستان ورانونې ننداره کوو، د ط الب او افغان حکومت د جګړې برابري به هم ساتو، یو څه مهال به یوه خوا هم بشپړې بریا ته نه پرېږدو. خو بابا په غرب کې وخت تېر کړی. د غرب په اکاډمیک محیط کې استاد پاته شوی. د غرب د سیاستوالو هر حرامیتوب تر نورو افغان چارواکو بهتره ور مالوم و. بابا د قدرت پروا ونه ساتله، د ارګ له ښکلي دربار هم تېر شو. تېښته یې وکړه، خو څو ګټې یې وکړې. لومړی دا چې د تېرې شل کلنې جګړې لپاره چې په تاریخ کې د امریکا د بریا په نامه ثبت شي؛ امریکا له ط البانو سره جوړجاړی کړی و. خو درانه غني د امریکا بریالی جګړه او بریالي مذاکرات په وروستی نقطه کې د ماتې سره مخ کړه. داسې تېښته یې وکړه چې؛ ط البان یې مجبور کړل چې مسلح پر کابل ننوځي. نړی ته د رسنیو د لیاري هم وښودل شوه چې ط البان پر افغانستان د زور د لیاري حاکم شول. د امریکا حیثیت یې په نړیواله سطحه کې بیخي ښکته کړ. د امریکا دوه مخیتوب او کمزوري یې هم ټولې نړۍ ته ور وښوده. لکه څنګه چې د میوند په جګړه کې افغانان د انګرېزانو سره له جګړې ستړي شوي و، خو د ملالی په یوه ټپه یې احساسات وپاړېدل او ناکامه جګړه یې بریالی کړه، درانه غني هم عینې کار د امریکا سره وکړ. که اوس د تاریخ لیکل د افغان یا بهرني مسوولیت هم وي، حتمي به لیکي؛ لومړی انګرېزانو، بیا روس او وروسته امریکا هم په افغانستان کې د ماتې سره مخ شوه. اوس په دې امریکایي چارواکي هم پوه شوي. بله خبره دا چې؛ امریکا غوښتل چې ط البان نن، سبا یا بله ورځ پر افغانستان حاکم کړي، خو هغوي غوښتل چې ط البان جوړ افغانستان ته نه بلکې وران افغانستان ته راولي. غوښتل یې چې غني به د خپل قدرت لپاره د ط البانو پر وړاندې سخت مقاومت وکړي، د افغانستان هر ښار به لکه هلمند یا د بغلان د بلاکونو د بازار په ډول د اور په سختو لمبو وسېځي، خو غني تر واک تېر شو، بلکې جوړ افغانستان یې ط البانو ته ورکړ. ځکه امریکا سخته غوسه هم ده. د بایډن فېسبوکي صفحې ته ور دننه شئ! په تېرو څو ورځو کې یې د افغانستان اړوند تر شل ډېر پوسټونه کړي. کوښښ کوي چې د ځان سپیناوی وکړي. له ډېرو پوسټونو یې د اشرف غني سره عقده او غوسه له لیري بربښي. د هر پوسټ په کمینټونو کې خپلو عامو امریکایانو سخت ښکنځلی هم دی. ډېرو ورته لیکلي؛ مونږ بد کړي چې رایه مو درکړي، بل ځل رایه به ونه ویني چې ریس جمهور شي. د بایډن خبرې به هم ټولو لیدلی وي چې ویل یې؛ اشرف غني دوه اونۍ مخکې ماسره په امریکا کې ژمنه وکړه چې زه جګړه کوم، خو دی وتښتېد. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر دوه ځله په مختلفو ویناوو کې وویل چې غني مونږ سره ژمنه کړې وه چې تر وروستی مرمی به جګړه کوم، خو دی وتښتېد. ټرامپ هم څلور ورځې وړاندې غوسه و، رسنیو ته یې وویل؛ ما په اشرف غني پخوا هم باور نه کاو، چې زما د لیدنې لپاره امریکا ته راغلی و؛ ټوله ورځ یې زمونږ د سناتورانو تر مینځ منافقتونه کول، زما پر وړاندې یې درول.

که بیخي یې لنډ ووایم، درانه غني په خپله تېښته درې ګټې وکړې؛ امریکا یې د تاریخي پلوه په افغانستان کې د ماتې په نامه ثبت کړه. د افغانستان د ښارونو د سېځلو او ورانولو مخنیوی یې وکړ. د لا ډېرې او بې ګټې افغان وژنې مخنیوی یې وکړ.

بله خبره دا چې، غني د افغانستان حکومت هم په ډېره ځیرکتیا ور تسلیم کړ. ژر ونه تښتېد، ځکه که دی له وخت وړاندې تښتېدلی وای؛ امرالله صالح ریس جمهور کېد او هغه ټولو ته مالوم هم دی چې؛ بیا به یې تر وروستی مرمی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د خپل واک د بقا لپاره جګړه کوله. هغه پلان چې د افغانستان د ورانولو امریکا، برتانیې او پنجاب لاره؛ کاملاً یې په شعوري یا غیر شعوري ډول ورته عملي کاوو، خو غني تر وروستۍ شېبو پاته شو. هر ولایت یې ور تسلیم کړ، حتا تر کابل یې هم را دننه کړل، بیا ولاړ. که غني غوښتي نه وای؛ ط البان به هیڅکله پر بشپړ افغانستان د زور د لیارې حاکم شوي نه وای. په دې ط الب مشران هم پوهېږي. د خوست زړور ولس چې په جمهوریت له سر هم تېر ول؛ ایا ط البانو په زور نیولی شوای؟ د ننګرهار هوښیار ولس چې همېش د نظام تر څنګ پاته شوي؛ ایا ط البانو په زور نیولی شوای؟ کابل یې نیولی شوای؟ نه، هیڅکله نه. مزار کې یې په عطا او دوستم هم لیاره جوړه کړې وه، غني غوښتل چې د تېرو ټولو ناندریو غچ ورڅخه واخلي، خو بچ شول. هغوي په حکومتي امکاناتو ډاډه و، خو درانه غني وختي تسلیم کړي و.

هغه پلان چې امریکا، برتانیې او پنجاب لاره چې د حکومت او ط البانو په خپلمنځي جګړه کې به افغانستان وران شي؛ غني له مینځه یووړ. تر څو چې دوی بیا ځل د افغان وژنې او افغانستان ورانونې ستراتیژیانې جوړوي؛ افغانان او افغانستان به آرام وي. په دې پوهېږو، پاکستان پر طالبانو نفوذ لري، خو دا چې څومره نفوذ لري؟ هیڅوک یې دقیق درک کولی نه شي. خو د ط البانو د راتلونکو کړنو څخه وروسته پوهېدلی شو. که ط البان هڅه او ځیرکتیا وکړي؛ د پاکستان تر نفوذ ځان خلاصولی شي، دا جوړ افغانستان هم له ورانولو ژغورلی شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ